# د ښوونځي د نوملیکنې لارښود
# د لومړي ځل نوملیکنه او د ښوونځي د

## په متحده ایالاتو کې د ټولګي ټاکلو پوهاوی

په متحده ایالاتو کې، ماشومان د عمر او د زیږون دقیقې نیټې پر بنسټ یو ټاکلي ټولګي ته شاملېږي .د دې لپاره چې ماشوم مو وړکتون ته لاړ شي، باید د اوسني ښوونیز کال تر سپټمبر ۱مې پورې ۵ کلن وي.

عمومي لارښود دی:

| ټولګي | عمرونه | د ښوونځي ډول |
|---|---|---|
| له وړکتون تر شپږم ټولګي – | کاله ۱۲-۵ | **ابتدائی ښوونځی** |
| اووم او اتم ټولګي | کاله ۱۴-۱۲ | **منځنی ښوونځی** |
| له نهم تر دولسم ټولګي | کاله ۱۸-۱۴ | **ثانوي ښوونځی** |

## نوی ښوونځی پیدا کړئ

ستاسو د ماشوم لپاره د نوي ښوونځي د موندلو لپاره څو مختلفې طریقې شته. یاد ولرئ چې د ماشوم عمر ټاکي چې هغه به ابتدائی، منځني، یا ثانوي ښوونځي ته ځي.

**طریقه ۱:**

- دا ومومئ چې کوم ښوونیز ولسوالی (School District) ته تاسې کډه کوئ. ښوونیزه ولسوالی یو مجموعه ده د عامه ښوونځیو چې نږدې یو له بله موقعیت لري او د یوې ادارې له خوا اداره کېږي. ستاسو اوسنی استوګنځی ټاکي چې کوم ولسوالۍ ته شامل یاست.
- له خپلې نوې ولسوالۍ سره تماس ونیسئ او پوښتنه وکړئ چې ستاسې ماشوم کوم ښوونځي ته به ځي، یا هم د دوی حدود آنلاین وګورئ.
- School Ratings & Reviews for Public & Private Schools: GreatSchools

**طریقه ۲:**

- د ماشوم د عمر له مخې، خپل کور ته نږدې ابتدائی، منځنی، یا ثانوي عامه ښوونځي ته لاړ شئ او د ماشوم د نوملیکنې لپاره یې مرسته وغواړئ. مهرباني وکړئ یاد ولرئ چې نږدې ښوونځی ممکن د ماشوم لپاره سم نوی ښوونځی نه وي، ځکه هر ښوونځی خپل ځانګړي جغرافیایي حدود لري. هغوی ممکن تاسې بل ښوونځي ته راواستوئ چې نږدې وي.

**طریقه ۳:**

- کله چې تاسې د ماشوم اوسني ښوونځي ته خبر ورکوئ چې تاسې لېږدېږئ، نو له هغوی وغواړئ چې د نوي پته پر اساس د ماشوم لپاره نوی ښوونځی پیدا کړي.

## د نوم‌لیکنې لپاره اسناد چمتو کړئ

**هر ښوونځی له تاسو څخه غواړي چې د نوم‌لیکنې مخکې ځانګړي اسناد برابر کړئ. لاندې هغه عام اسناد دي چې اکثره وخت غوښتل کیږي:**

### د پېژندنې ثبوت

تاسو باید یو د پېژندنې سند د ځان لپاره او یو د خپل ماشوم لپاره چمتو کړئ. مثل شوي اسناد دا دي:
•د زیږون سند
I-94 •یا پاسپورټ
•ویزه
•د ترانسپورت د سپرلو لیک
•د کار جواز (Employment Authorization Document) یا شین کارت(Green Card)

### د واکسین ریکارډونه

که تاسو دا اسناد نه لرئ، له خپل ماشوم د ډاکټر نه یې وغواړئ. که ماشوم مو له واکسینونو وروسته پاتې وي، نو د ښوونځي له پیل وروسته ۳۰ ورځې مهلت لري چې ټول اړین واکسینونه واخلي.

### د استوګنې ثبوت

تاسو باید له لاندې اسنادو څخه دوه داسې اسناد برابر کړئ چې ستاسو استوګنه ثابت کړي:
•د موټر چلولو جواز
•د کرایي سند یا د اجارې قرارداد
•د کور ملکیت ثبوت، لکه د مورتګیج سند
•د عوایدو مالیې د ورکړې سند
•رسمي اسناد چې ستاسو پته پکې لیکل شوې وي (لکه: د برېښنا بل، تلیفون بل، یا د کریډیټ کارډ بل)

### نور ځانګړي اسناد (که اړتیا وي):

که ماشوم مو د ښوونځي په داسې پروګرام کې شامل شوی وي چې ځانګړي خدمات وړاندې کوي، لکه د چلند پلان، طبي آسانتیاوې، یا د پرمختللو زده‌کړو پروګرامونه، نو مهرباني وکړئ د هغو اسناد له ځان سره راوړئ (لکه: د 504 اسناد، د ځانګړي زده‌کړې اسناد، یا د استعدادي زده‌کوونکو اسناد).
که ماشوم مو مخکې ښوونځي ته تللی وي، نو د هغه د وروستي راپور کارت یوه کاپي هم راوړئ.

## د خپل نوي ښوونځي د لیدنې لپاره ملاقات تنظیم کړئ

له خپل ماشوم د نوي ښوونځي سره اړیکه ونیسئ تر څو د ثبت اسنادو د بشپړولو لپاره ملاقات تنظیم کړئ او د ښوونځي د پیل لومړی ورځ تایید کړئ. ځیني ښوونځي آنلاین نوم‌لیکنه غواړي.
•که تاسو نه شئ کولای فورمې آنلاین ډکې کړئ، ښوونځي ته زنګ ووهئ او پوښتنه وکړئ که کولای شئ له دوی سره د مرستې په ترڅ کې فورمې حضوري ډکې کړئ. حتی که تاسې آنلاین نوم‌لیکنه هم وکړئ، ښوونځي ته په شخصي توګه تلل کولی شي تاسې او ستاسو ماشوم ته د آرامتیا احساس ورکړي.
•که تاسې ژبنۍ مرستې ته اړتیا لرئ، نو تاسو د ژباړونکي حق لرئ. ښوونځي ته زنګ ووهئ او ووایئ:
**زه [خپله ژبه] ژباړونکي ته اړتیا لرم**

## پرله‌پسې پوښتنې

### زوی/لور مې څنګه ښوونځي ته ځي او بېرته راځي؟

**•که ستاسو ابتدائی ښوونځی له کور څخه ۱.۵ میل (۲.۴ کیلومتره) یا زیات واټن ولري، یا منځنی/ثانوي ښوونځی له کور څخه ۲ میل (۳.۲ کیلومتره) یا زیات لري وي، نو ښوونځی به د بس له لارې ماشوم ښوونځي ته یوسي او بېرته راولي.**
**•که ښوونځی نږدې وي، ماشوم باید پلې لاړ شي. د ډېرو وړو ماشومانو لپاره، مور یا پلار باید ورسره لاړ شي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ماشوم خوندي وي**

**او لار ورکه نه کړي.**
**•په امریکا کې دا هم معمول دی چې ماشومان په بایسکل، سکوټر، یا سکیټ بورډ ښوونځي ته لاړ شي. که مو موټر ولري، کولای شئ خپل ماشوم پخپله یوسئ او راوړئ.**
**•که ماشوم مو روغتیایي ستونزه ولري چې د پلي تګ مخه نیسي، نو له ښوونځي سره تماس ونیسئ او د استثنا غوښتنه وکړئ. ښایي ښوونځی د ډاکټر لیک وغواړي.**

---

**ایا ماشوم مې به ښوونځي کې خواړه خوري؟**

**هو، په امریکا کې ټول عامه ښوونځي زده‌کوونکو ته د غرمې ډوډۍ (lunch) ورکوي، او ځینې ښوونځي ناشته (breakfast) هم ورکوي. تاسې کولای شئ ماشوم ته خپل خواړه له ځان سره ورکړئ یا هم د ښوونځي خواړه واخلئ.**

**که له مالي ستونزو سره مخ یاست، ماشوم مو ممکن د وړیا غرمې لپاره مستحق وي. د دې لپاره باید خپل مالي وضعیت ثبوت کړئ.**
**یقیني کړئ چې له ښوونځي د Fee Waiver Form او Free School Lunch Form وغواړئ، ځکه ښایي دا فورمې تاسو ته پخپله ورنه کړي، تر څو وغواړئ.**

---

**ایا ماشوم مې باید هره ورځ ښوونځي ته لاړ شي؟**

**هو، پرته له خاصو حالاتو یا رخصتیو، ټول ماشومان چې عمر یې د ۶ او ۱۸ کلونو ترمنځ وي، باید هره ورځ ښوونځي ته لاړ شي.**
**په امریکا کې دا قانوني مسوولیت دی، او که ماشوم مو ډېر غیابت وکړي، ښایي قانوني ستونزې رامنځته شي. البته ځینې خاص استثناوې شته، لکه که ماشوم روغتیایي ستونزه ولري، نو ښایي اجازه ورکړل شي چې کور کې پاتې شي.**

---

**کوم معلومات باید له ښوونځي سره شریک کړم؟**

**تاسو هر وخت کولای شئ له ښوونځي سره تماس ونیسئ، خو په لاندې حالتونو کې باید ضرور خبر ورکړئ:**
**•که بل کور یا اپارتمان ته کډه کوئ**
**•که د روغتیایي پلان بدلون راځي**
**•که ماشوم مو یوه یا څو ورځې نه شي ښوونځي ته تلای**
**•که ماشوم مو په زده‌کړه، ټولنیز ژوند، یا احساساتي لحاظ له ستونزو سره مخ وي**

---

**د خپل ماشوم د ښوونځي کوم معلومات باید په یاد ولرم؟**

**دا ښه ده چې دا معلومات یا خو په یاد ولرئ یا په داسې ځای کې وساتئ چې ژر یې پیدا کړئ:**

- **د ښوونځي نوم**
- **د ښوونځي کلنی مهالویش**
- **ماشوم مو کوم ټولګي کې دی**
- **د ښوونځي تلیفوني شمېره**
- **د ښوونکي نوم**
- **د ښوونځي ورځنی پیل او پای وخت**
- **د ښوونځي پته**
- **د ښوونکي ایمیل آدرس**